مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

احسان الله ارینزی

۲۰۱۹/۰۵/۰۸

# وړوکی تور کب

**ځو ورځې مخکې بی بی سی په هغو کتابونو راپور درلود چې په تیرو سلو کلونو کې یې، په ایران کې په ټولنیزو-سیاسی بدلونونو کې د پام وړ ونډه لرلې ده.. یو له دې کتابونو څخه د نامتو لیکوال صمد بهرنګی «وړوکی تور کب» دی چې ما (احسان الله ارینزی) په ټانده ځوانی ( ۱۳۵۷ هـ ش) کې په پښتو اړولی و.**

یوه شپه په سیند کې زاړه کب، خپل دوولس زره بچیان او لمسیان ټول کړي وو او دوی ته یې کیسه کوله:
)وو نه وو. یو وړوکی تور کب و چې په یوه لویه ویاله کې یې، له خپلې مور سره ژوند کاوه. دا ویاله، د ډبرین غره له لمنو څخه مخکښته درې ته روانه وه.
وړوکی تورکب او مور یې د یوې تورې ډبرې شاته اوسېدل او هملته تر شنو مرغو لاندې بيدېدل. وړوکي تورکب ډېره هيله درلوده چې سپوږمی - که څه هم چې د یوه ځل له پاره وي _ پخپل کور کې ووینې!
مور او زوی به له سهاره تر ماښامه، یوازې او یا له نورو کبانو سره یو ځای، ورو یا ګړندی په یوه لویشت ځای کې ګرداګرد تاوېدل. وړوکی تور کب د مور یو زوی و. مور یې لس زره هګۍ اچولې وې چې له ټولو څخه یوازې همدا یو تور کب روغ رمټ راوتلی و.
له څو ورځو راهیسې وړوکی تور کب په فکرونو کې ډوب و او خبرې یې کمې کړې وې. زړه نا زړه به ورو _ ورو روان و او تر خپلې مور به وروسته پاتې کېده. مور یې فکر کاوه چې د زوی ستوماني به يې ژر له منځه لاړه شي... خو وړوکي تورکب يو بل رنځ درلود!
یوه ورځ سهار وختي چې لمر لا نه و راختلی، وړوکي تور کب خپله مور راويښه کړه او وې ویل:
-مورې! له تا سره څو خبرې کوم!
مور يي خپلې خوبولې سترګې وغړولې او وې ویل:
-ګرانه، د سترګو توره! په دې شنه سهار کې څه ویل غواړې؟ اوس به ووځو دباندې خبرې به بیا بل وخت کوو.
وړوکي کب وويل:
-نه مورې، زه نور د باندې نه ګرځم. زه له دې ځایه ځم!
مور يې وويل:
-ته ځې؟ ولې؟ چېرې؟....
وړوکي کب وويل:
-هو مورې ... زه باید ولاړ شم.
مور يې وويل:
-ګرانه بچيه، ته په دې شنه سهار کې چېرې ځې؟
وړوکي تور کب وويل:
-ځم چې د ویالې پای پیدا کړم. ته پوهېږې مورې، زه له څو میاشتو راهیسې په دې فکر کې ډوب یم چې د ویالې پای به چېرته وي؟ خو تر اوسه په هېڅ نه یم پوهېدلی. تېره شپه تر سهاره ویښ وم او د ویالې د پای په فکر کې ډوب وم. اوس مې پرېکړه کړې چې ولاړ شم او د ویالې پای پیدا کړم. زه غواړم په دې پوه شم چې په نورو ځایونو کې څه خبرې دي؟
مور يې وخندل او وې ویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

-زه هم چي کوچنی وم، دا خبرې به مې کولې. ګرانه، د زړه سره، بچیه، ویاله سر او پای نه لري، ویاله همدغه ده چي ته یې وینې! سر او پای یې نشته، ویاله تل روانه وي او بهېږي.
وړوکی تور کب وویل:
-موري هر شی پای لري... شپه پای لري، ورځ پای لري... اونی.. میاشت... کال... ژوند ... هر څه...
مور قهرجنه شوه او وې ویل:
-دا اپلتې بس کړه. نور... څه چي د باندې لاړ شو. اوس د ګرځېدو وخت دی، نه د خبرو!
وړوکي تور کب ځواب ورکړ:
-نه موري زه نور له دې ګرځېدو نه ستړی شوی یم. زه غم چي نور ځایونه ووینم. ښایي چي هلته نوې خبرې وي. ګوره موري ته به داسې فکر کوې چي ګواکي دا خبرې به بل چا راښودلې وي، خو نه، زه اوس په ډېرو خبرو ښه پوهېږم. له څه مودې راهیسې په فکر کي ډوب یم... له نورو څخه مې هم ځیني شیان زده کړي دي. د مثال په توګه په دې پوهېږم چي ډېر کبان د زوړوالي په وخت کي له ژونده ګیلې کوي او وایي چي ژوند یې عبث تېر شوی دی. زه غواړم پوه شم چي ژوند همدا دی؟ په یوه لویشت ځای کي څه او راڅه، ګرځه – راګرځه. تر هغه چي زوړ شي او بس. یا دا چي په دنیا کي بل راز ژوند هم شته؟...
د وړوکي تور کب تر وینا وروسته د هغه مور وویل:
-بچیه! لیونی شوی یې؟ دنیا؟.... دنیا!.... نوره دنیا یعنی څه؟ دنیا همدغه ده چي موږ پکې ژوند کوو او ژوند هم همدغه دی چي موږ یې لرو...
دا وخت یو لوی کب د دوی د کور خوړ ته نژدې شو او وې ویل:
-ګاونډی، ولې دې له زوی سره ناندری وهې ؟.. لکه چي نن ویالې ته نه ځې؟
د وړوکي تور کب مور د ګاونډي کب په درناوي، له کوره ووته او وې ویل:
-زمانه خرابه ده! (له ما نه وشوی آخر د ما د مور میره شوې)، اوس – اوس اولادونه خپلو میندو ته نصیحت کوي!
ګاونډي کب وویل:
-څنګه؟
د وړوکي تور کب مور وویل:
-ته ګوره چي دغه لویشتنګ ما پرېږدي او ځي! وایي غم چي په نوره دنیا کي څه خبره ده!
ګاونډي وویل:
-کمکیه! ته خو عالم او فیلسوف یې. ارمان چي موږ دې نه پېژنو؟!
وړوکي تور کب وویل:
-اکا! زه نه پوهېږم چي ته چا ته (عالم او فیلسوف) وایې؟ زه دلته ستومانه شوی یم. یو وخت به ستاسو په شان زوړ وم او لا به هم همداسې په غوړو کوڼ او په سترګو ړوند کب وم چي اوس یم.
ګاونډي وویل:
-عجب !.. دغه ده ژبه!
د وړوکي تور کب مور وویل:
-ما هېڅ فکر نه کاوه چي زوی به مې دومره بې لارې شي. خدای ښه پوهېږي چي چا زما ګلالی زوی بې لارې کړی دی!
وړوکي تور کب وویل:
-هېچا موري، هېچا. زه سترګې لرم او هر څه وینم او عقل لرم او په هر څه پوهېږم.
ګاونډي کب د وړوکي تور کب مور ته ووې:
-خورکۍ! هغه اسماني پشی(ګوک) دې یادېږي؟
د وړوکي تورکب مور وویل:
-هو ... هو ...، همغه زما له زوی سره ګرځېده، خدایه ته خیر مه ورکوې!
وړوکي تور کب وویل:
-بس که موري. هغه زما ملګرې وه.
مور یې وویل:
-د کب او اسماني پشي ملګرتوب؟.. په چا یې منې؟
وړوکي کب وویل:
-زه بیا د کب او اسماني پشی دښمني هم نه شم منلای. تاسو هغه ببوزله په اوبو کي ډوب کړه او ومو وژله.
ګاونډي وویل:
-پخوړنی خبرې مه یادوه.
وړوکي کب وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

-تاسو پخورنی خبرې یادوئ.
مور یې وویل:
-هغه باید وژل شوي وای! په یاد دې نه دي چې څه خبرې یې کولې؟؟
وړوکي تور کب وویل:
-نو ما هم ووژنئ، څه چې زه هم همغه خبرې کوم.
لنډه دا چې د دغه دریو کبانو په خبرو نور کبان هم راغونډ شول. وړوکي تور کب د ټولو اعصاب خراب کړل. یوه وویل:
-ګوره هلکه پر تا به رحم ونه کړو!
یو بل کب وویل:
-غوږونه یې باید تاو شي!!
د وړوکي کب مور وویل:
-پام! چې زما په زوی لاس پورته نه کړې!
یوه کب وویل:
-تا چې خپل زوی سم نه دی روزلی، اوس باید دواړه سزا ووینئ.
ګاونډي کب وویل:
-ارمان چې زما کور خو ستاسو په څنګ کې نه وای. زه په تاسو شرمیږم.
یوه بل کب وویل:
-اوس هم لا وخت دی، ژر یې زړې آسماني پشی ته واستوئ.
کبان په وړوکي تور کب راوڅرخېدل؛ خو ملګرو یې چاپېره کړ او د قهرجنو کبانو له کړی څخه یې ویست. د وړوکي تور کب مور په کرېږو ژړل او ویل یې:
-الله! بچې مې وژل کېږي. څه وکړم؟ څه خاورې په سر واړوم؟
وړوکي تور کب وویل:
-موري! زما له پاره مه ژاړه، د دغه بېوزله زړو کبانو په حال وژاړه...
یوه کب له لیرې څخه چیغې کړې:
-سپکې سپورې مه وایه لویشتینکه!
یوه بل وویل:
-که ولاړې او پښېمانه شوې بیا به دلته نه راځې!
دوهم کب وویل:
-هلکه د ځوانی په خبرو مه غولېږه، مه ځه!
دریم وویل:
-دا ډېر ښه ځای دی!
څلورم:
-دنیا همدغه ده چې موږ یې وینو، بله دنیا مونیا نشته، مه ځه!
پنځم:
-شاباس، هوښیاري وکړه او مه ځه.
شپږم:
-ته همدلته لوی شوی او اوسېدلی یې، خپه به شې!
مور یې وویل:
-په ما رحم وکړه، مه ځه! بچیه مه ځه...!
خو وړوکي تور کب خپله پرېکړه کړې وه. په ډېره مېړانه روان شو او څو همزولو بدرګه کړ، وړوکی کب د خدای پاماني په وخت کې خپلو همزولو ته وویل:
-ملګرو، د بیا لیدو په هیله، ما مه هیروئ.
-ملګرو وویل:
-څنګه به تا هیروو، تا له خوبه راویښ کړو او په ډېرو خبرو دې پوه کړو. اوس موږ ښه او بد پېژنو، هوښیاره او زړه وره ملګریه په خیر ولاړ شې!
وړونکي تور کب د ویالي په پای کې د یوه کوچني ځروبې (آبشار) له لارې حوض ته ورولوېد. لومړی لږ وارخطا شو؛ خو ژر یې لامبو پیل کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وړوکي تور کب په خپل ټول ژوند کې دومره ډېرې اوبه نه وې لیدلې. هلته د ښینګښیو په زرهاوو کوچنیو بچیانو لمبل چې پلن- پلن سرونه او اوږدې -اوږدې لکۍ یې درلودې. د ښینګښي بچیانو پر وړوکي تور کب وخندل او وې ویل: ته څوك یې؟... قواري ته یې وګوره!

وړوکي تورکب په ویره ورته وکتل او وې ویل:

-هیله کوم چې سپکي سپاندې مه وایئ. زما نوم وړوکی تور کب دی. تاسو هم خپل نومونه واخلي چې سره وپېژنو.

د ښینګښي یوه بچي وویل:

-موږ یو بل ته پلن سري وایو.

یوه بل وویل:

-ښه اصل او نسب لرو.

بل وویل:

-په ټوله دنیا کې موږ ښکلي یو.

څلورم وویل:

-ستا په شان بدشکله نه یو.

وړوکي تور کب وویل:

-الله، تاسو څومره ځان خوښي یاستي؛ خو خیر زه به تاسو وبښم؛ څه چې نه پوهېږئ!

د ښینګښي بچیانو وویل:

-څه؟ ... څه ... یعنی چې موږ ناپوه یو؟!

وړوکي تورکب وویل:

-که ناپوهـ نه وای، هرو مرو به پوهېدلي چې په دنیا کې ډېر داسي کسان شته چې خپله څېره یې ډېره خوښېږي.

وړوکي تور کب ډېرې خبرې وکړې، له همدې امله د ښینګښي بچیانو سره له دې چې په غوسه شوي وو، په نرمه وویل:

-ته ډېر بې ځایه په غوسه شوې. موږ هره ورځ له سهاره تر ماښامه په دنیا کې ګرځو؛ خو تر خپل ځان او خپلو میندو او پلرونو پرته بل څوك نه وینو. دا ځیني واړه- واړه چینجیان خو هېڅ د یادوني وړ نه دي!!

وړوکي تور کب وویل:

-تاسو خو له دې ګرداوي څخه نه شی وتلی؛ نو په کومه دنیا کې ګرځئ؟

د ښینګښي یوه بچي وویل:

-له دې ګرداوي څخه پرته، بله دنیا هم شته؟

تور کب وویل:

-تاسو فکر وکړئ چې دا اوبه له کومه ځایه څخه دلته راځي او له اوبو څخه د باندې څه شی دي؟

د ښینګښي بچیانو وویل:

-له اوبو څخه د باندې.. هـ.. هــ.. موږ یې نه پیژنو !... هغه کوم ځای دی؟... هـ.. هــ هــ.. هــ لیونی شوې یې هلکه!؟

وړوکي تور کب وخندل او د ښینګښي له چوچیانو څخه یې پوښتنه وکړه:

-ستاسو مور چېرې ده؟

ښینګښي چې د ګرداوي پر غنده، په یوه ډبره ناسته وه، اوبو ته ټوپ کړل او وړوکي تور کب ته یې وویل:

-زه دغه یم، څه وایې؟

تور کب وویل:

-ادی ، سلام!

ښینګښي وویل:

-ځان مه ښکاروه، ورك شه، کم اصله... بې نسبه! ماشومان غولوې! زه په خپل ټول ژوند کې همدا اوس پوهېدلې یم چې دنیا همدا ده!... ښه به دا وي چې له دې ځایه ولاړ شې او زما اولادونه بې لارې نه کړې.

وړوکي تور کب وویل:

-که سل ځلي نور هم ژوند وکړې، بیا به هم یوه ناپوهـ ښینګښه وې.

ښینګښه په غوسه شوه او په کب یې ټوپ کړل؛ خو وړوکي تور کب د برېښنا په شان وخوځېد او د خورو ورو شنیلیو په مینځ کې آلونیه شو.

له هغه ځای څخه لږ لیرې، اوبه په یوه ټیټه دره کې رواني وې.

په یوه ځای کې یوه لویه ډبره د اوبو مینځ ته لوېدلې او اوبه یې په دوو برخو وېشلې وې. په همدې ډبره باندې یوه توره څرموښکی (شلند) پرته وه او ځان ته یې لمر ورکاوه. څرموښکی هغه لوی چنګاښ (خرچنګ) ته کتل چې د ساحل په شګو ناست و او د ښکار شوي ښینګښي غوښي یې خوړلې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

وړوکي تور کب چې چنګاښ ولید، ډېر وبېرېد او سلام يې وکړ. چنګاښ کاږه – کاږه ورته وکتل او وې ويل:
-څومره باادبه کب!... راشه دلته کوچنيه!.. آفرين.
وړوکی کب وويل:
-زه ځم او په ټوله دنيا ګرزم، ته غواړې چې ما وخوري؟... هـ.
-چنګاښ وويل:
-وړوکيه، ته ولې دومره بېرېږې؟
کب ځواب ورکړ:
-زه نه ويرېږم، زه د خپلو سترګو په ليد او د خپل عقل په وينا ايمان لرم.
چنګاښ وويل:
-ښه، ستا سترګې او ستا عقل زما په هکله څه وايي. زه نه غواړم چې تا وخورم!
وړوکي تور کب وويل:
-ته ښه پوهېږې چې رښتيا نه وايې!
چنګاښ وويل:
-هلکه! ته دې ښينګښې ته ګوري او فکر کوې چې تا هم خورم. نه... نه... مه ليونی کېږه! زه له ښينګښو سره دښمني لرم، څه يې خورم. ښينګښي فکر کوې چې دنيا د دوی ده او دوی ډېرې نيکمرغه دي؛ خو زه به يې په دې پوه کړم چې دنيا د چا په واك کې ده؟ نو ته مه وېرېږه ګرانه! او راخه وړاندې.
چنګاښ ورو – ورو د وړوکي کب په لور روان شو. وړوکي تور کب له خندا نه شين شو او وې ويل:
-ببوزله، ته چې خپل تګ دې سم نه دی زده، په دې څه پوهېږې چې دنيا د چا په واك کې ده؟!
وړوکی تور کب ورو وخوځېد. دا مهال ځرموښکې پر چنګاښ ورټوپ کړ او په يوه ګوزار يې څو پښې ورماتې کړې. وړوکی تور کب ورو د اوبو له ځنډې څخه مينځ ته وخوځېد، څه چې يوه کوچنۍ شپانه، ده او چنګاښ ته په ځير – ځير کتل او رمې يې اوبه څښلې.
کله چې رمې اوبه وڅښلې او ولاړې، وړوکي تور کب بېرته راستون شو او ځرموښکې ته يې وويل:
-ګراني ځرموښکې! زه يوه وړوکی تور کب يم چې غواړم د ويالې پای پيدا کړم. زه فکر کوم چې ته هوښياره او پوه يې، څه له تا څخه دا پوښتنه کوم.
ځرموښی وويل:
-پوښتنه وکړه.
کب وويل:
-په لاره کې ډېرو کسانو زه له سقاوك مارغه، اره ماهي او کب خوړونکي نه بېرولی يم، دا څوك دي؟ ته يې پېژنې؟...
ځرموښکې وويل:
-اره ماهی او کب خوړونکي دلته نه شته. اره ماهي په دریابونو کې ژوند کوي؛ خو سقاوك مارغه ښايي چې په همدې نژدې ځايونو کې پيدا شي. پام! چې ونه غولېږې او په کڅوړه يې ور د ننه نه شې.
وړوکي تور کب وويل:
-کڅوړه؟...!
ځرموښکې ځواب ورکړ:
-هو، سقاوك يو لامبوزن مارغه دی چې تر ټټر لاندې يوه کڅوړه لري. کبان کله نا کله دغې کڅوړې ته ننوزي او د سقاوك مارغه خېټې ته ځي. که سقاوك موړ وي، کب په خپله کڅوړه کې ساتي او د لوږې په وخت کې يې خوري.
وړوکي تور کب وويل:
-ښه، که کب دې کڅوړې ته ننووت، بيا نه شي وتلای؟
ځرموښکې ځواب ورکړ:
-يه، د وتلو لار نه شته. پرته له دې چې کڅوړه څيرې شي. زه به تا ته  يوه وړه توره درکړم. که چېرته د سقاوك په کڅوړه کې ښکېل شوې، هغه پرې څېرې کړه.
دا مهال ځرموښکې خپلې خونې ته  ننوته او يوه کوچنۍ؛ خو تيره توره يې راويسته.
وړوکي تور کب توره واخسته او وې ويل:
-څومره مهرباني دې وکړه، ډېره- ډېره مننه!
ځرموښکې وويل:
-کور ودان. زه په سلګونو او زرګونو تورې لرم. هر کله چې وزګاره وم د بوټو له پاڼو څخه تورې جوړوم او ستا په شان هوښيارو ته يې سپارم.
وړوکي تور کب وويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

-نور کبان هم له دې ځایه تېر شوي؟...
ځرموښکی وويل:
-هو، په لس ګونو او سل ګونو!... هغوی اوس يوه لويه ډله جوړه کړې او کب نيوونکي سړي يې له ستونزو سره مخامخ کړي دي.
وړوکي تور کب وويل:
-ښېنه غواړم چې له خبرې څخه خبره پيدا کېږي. کبانو څنګه کب نيوونکي له ستونزو سره مخامخ کړي دي؟
ځرموښکی ځواب ورکړ:
-دا څه چې دوی ټول سره يو موټی شوي دي. يو ځای د کب نيوونکي په جال ورننوزي او جال له ځانه سره د اوبو تل ته وړي.
دا مهال ځرموښکی د ډبرې په يوه کوچني سوري غوږ کېښود او وې ويل: زه نور ځم چې بچيان مې ويښ شوي دي.
ځرموښکی ولاړه او وړوکی تورکب روان شو. وړوکی مغز يې له راز – راز پوښتنو څخه ډک شوی و: آيا د وياله اوبه په سيند ورګډېږي او که نه؟ که له سقاوك سره مخامخ شم؟... وړوکی کب په هره لويشته لاره کې له نويو شيانو سره مخامخ کېده او نوي – نوې خبرې يې زده کولې. تر دې وخته پورې له وړوکي کب نه ښه لامبوزن جوړ شوی و، کله نا کله به د اوبو له تل څخه د اوبو سر ته جګېده او لمر ته به يې لکۍ ښوروله.
يو ځای له يوې ښکلې هوسۍ سره مخامخ شو. هوسۍ اوبه څښلې.
-سلام، هوسۍ! ولې دومره ښېره کوې؟
هوسۍ ځواب ورکړ:
-ښکارزن راپسې دی، په مرمۍ يې ويشتلې او ټپي يم.
وړوکي تور کب ټپ ونه ليد؛ خو د هوسۍ په ګوډ- ګوډ تګ پوه شو چې رښتيا يې ويلي دي. يو ځای ځو کيشپه (سنګ پشت) لمر ته ناست وو او بل ځای د زرکانو د کتارې انګازو دره ډکه کړې وه. په هوا کې د غرنيو وښو وږم خور و.
تر غرمې وروسته وړوکی تورکب د اوبو اوارې برخې ته ورسېد او هلته له ډېرو کبانو سره مخامخ شو. ده ډېره موده کبان نه وو ليدلي، کبان پرې راټول شول او وې ويل:
-پردېس يې، هـ؟
وړوکي تورکب وويل:
-هو، پرديس يم او له ليرې څخه راغلی يم.
کبانو وويل:
-چېرته ځې؟
وړوکي تور کب ځواب ورکړ:
-ځم چې د سيند پای پيدا کړم.
کبانو وويل:
-کوم سيند؟
وړوکي تور کب وويل:
-همدغه... چې تاسې پکې لامبې.
يوه کب وويل:
-سقاوك مارغه به دې وخوري.
يوه بل کب وويل:
-ته پوهېږې چې هغه يوه لويه کڅوړه لري؟
وړوکي تور کب وويل:
-هو، په دې پوهېږم.
يوه کب وويل:
-بيا هم ځې؟
وړوکي تور کب ځواب ورکړ:
-هو، هرومرو ځم!
ژر ټول کبان خبر شول چې يو وړوکی پرديس تور کب له ليرې راغلی او غواړي چې د سيند وروستۍ برخه پيدا کړي.
کبانو دا خبره هم واورېده چې وړوکی پرديس کب له سقاوك څخه هم نه ډارېږي. ځينو کوچنيو کبانو غوښتل چې له وړوکي تور کب سره يو ځای شي؛ خو د مشرانو له ويرې يې څه نه شوای ويلای.
ځينو بيا وويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

-که سقاوك مارغه نه وای، موږ درسره تلو؛ خو د سقاوك له کښوري ښخه ډېر ویرېږو.
د سیند پر غاړه یو کوچنی کلی و چې ښځو او نجونو یې د سیند په اوبو کې کالي وینځل. تور کب ښو شېبې تم شو او د دوی خبرو ته یې غوږ ونیو. ښو شېبې یې د ماشومانو ځغاستو ته وکتل او بیا روان شو. ولاړ، ولاړ... ولاړ تر هغو چې شپه شوه. د یوې کوچنۍ ډبرې لاندې ویده شو. نیمه شپه وه چې وېښ شو او سپوږمۍ ته یې وکتل. د سپوږمۍ سپینو وړانګو په اوبو کې د ده ټول شاوخوا ځایونه روښانه کړي و.
سپوږمۍ په وړوکي تور کب ډېره ګرانه وه. تور کب په خپل کور کې ډېره هیله درلوده چې یوه شپه له سپوږمۍ سره خبرې وکړي؛ خو مور به یې نه پرېښود. په دا شپه وړوکي تورکب پاڅېد او سپوږمۍ ته یې وویل:
-سلام، سپینې سپوږمۍ!
سپوږمۍ ځواب ورکړ:
-وړوکیه کبه، سلام! دلته څه کوې؟
تور کب وویل:
-د دنیا په سیل راوتلی یم.
سپوږمۍ وویل:
-دنیا ډېره لویه ده، ته کله په ټوله نړۍ کې ګرزیدلی شې؟
کب وویل:
-دربغه تر سهاره درسره پاتې وای؛ خو د توري وریځې یوه لویه ځپه راروانه ده او زما مخه نیسي.
کب وویل:
-ښکلې سپوږمۍ! ستا وړانګې مې ډېرې خوښېږي، دربغه تل پر ما خورې وای.
سپوږمۍ وویل:
-ګرانه کبه! زه په خپله وړانګې نه لرم – یوازې د لمر وړانګې ځمکې ته غبرګوم. رښتیا ځینې کسان غواړي چې له ځمکې ښخه والوزي او راشي دلته؟
تور کب ځواب ورکړ:
-دا کار نه شي کېدای.
سپوږمۍ وویل:
-درونډ کار دی؛ خو که انسان وغواړي...
توره وریځ راورسېده او د سپوږمۍ خبره یې غوڅه کړه. بیا د تیارې لمن خوره شوه او وړوکی تور کب یوازې پاتې شو. کب ښو شېبې تیارې ته ځیر او بیا د یوې لویې ډبرې ځنګ ته ویده شو.
سهار وختې ښو کوچنې – کوچنې کبان په وړوکي تور کب راټول شول، تور کب د دوی په غږ له خوبه راویښ شو او کبانو ته یې وکتل.
-ورځ په خیر!
تور کب دا کوچنې کبان وپیژندل او وې ویل:
-ورځ په خیر! ستړي مه شې، تاسو هم راغلئ؟
یوه کوچنې کب وویل:
-هو؛ خو تر اوسه هم وېرېږو.
یوه بل وویل:
-سقاوك مارغه ډېر خطرناك دی!
تور کب وویل:
-ډېر فکر مه کوئ. ویره په کار نه ده.
یو ناڅاپه د کبانو شاوخوا اوبه وخوځېدې او یو تور شی راښکاره شو. یوه شېبه وروسته ټول ځای تیاره شو او په کبانو باندې د تېښتې لار ونړل شوه. وړوکی تور کب وپوهېد چې د سقاوك مارغه په کښوره کې ایسار شوی دي.
وړوکي تور کب وویل:
-ملګرو! موږ د سقاوك مارغه په کښوره کې ایسار شوي یو؛ خو د تېښتې لاره شته...
ځینو کوچنیو کبانو وژړل:
-د تېښتې لاره نشته، دا ته وې چې موږ دې وغولولو...!
یو بل:
-تباه شوو، اوس به ټول وخوري!
ناڅاپه یوه ویرووونکې خندا واورېدل شوه. دا د همدې مارغه د خندا غږ و چې ویل یې:
-څه ښه کوچنې – کوچنې کبان! ها ها ها ... خومره ښکلي ! ها ها ها...
کوچنیو کبانو په زاریو پیل وکړ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

-جناب ...!... موږ تا ته ډېر احترام لرو! ستا په ستاینه کي مو ډېري خبرې اورېدلي دي . که دا خپله مښوکه لړ پرانیزې چي موږ لاړ شو، تل به دعاوې کوو او...
مارغه وویل:
-زه سمدلاسه تاسي نه خورم. په زیرمه کي ځو کبان لرم، د کښوړي بیخ ته وګورئ....
ربښتیا هم چي د کښوړي په بیخ کي ځو کبان پراته وو.
دا وخت یوه کوچني کب وویل:
-جناب.. . بښنه غواړم!... موږ ملامت نه یو، دغه تور کب وغولولو...
وړوکي تور کب وویل:
-ډارنو! زاری مه کوئ، دغه ځیرك مارغه هېڅ زړه سوی نه لري.
کوچنیو کبانو وویل:
-ته په خپله خبره نه پوهېږي. اوس به ووینې چي څنګه به موږ پرېږدي او تا به خوري!
مارغه وویل:
-سمه ده، تاسو په یوه شرط پرېږدم!
کوچنیو کبانو وویل:
-په کوم شرط جناب!...
مارغه وویل:
-دغه بیشرمه کب ووژنئ او ځانته خپلواکي وګټئ!
وړوکي تور کب لږ شاته وخوځېد او کوچینو کبانو ته یې وویل:
-دا خبره مه منئ! دغه ځیرك مارغه د بې اتفاقی تخم شیندي او موږ په خپلو کي سره جنګوي. زه یو پلان لرم...
کوچینو کبانو چي د خپل خلاصون په فکر کي ډوب وو، سمدلاسه او پرته له دې چي موضوع ښه وڅېړي، په تور کب یرغل وکړ. وړوکی کب لږ نور هم په شا وخوځېد او ورو یې وویل:
-ډارنو! مه غولېږئ، تاسو د تېښتي لار نه لري او ما هم نه شي وژلای.
کوچنیو کبانو ویل: ستا مرګ روا دی! موږ خپلواکي غواړو!
وړوکي تور کب وویل:
-هوښیار واوسئ! ستاسو خلاصون زما په مرګ پوري اړه نه لري. مه غولېږئ...!
کوچنیو کبانو وویل:
-ته غواړې چي ځان وژغورې!
تور کب وویل:
-یه، غوږ ونیسئ چي تاسو پخپل پلان خبر کړم. زه به ځان د مړو کبانو په مینځ کي مړ واچوم او وبه ګورو چي مارغه تاسو پرېږدي او که یه؟ او که زما خبره ونه منئ، ټول په دې توره وژنم او یا کښوړه لږ څیروم او تښتم...
یوه کوچني کب وویل:
-بس کړه نو! چټيات مه وایه.. هـ. اهـ .. او هو...
تور کب ژړېدونکي کب ته وویل:
-د مور نازولیه بیا ولي راتلې؟...!
تور کب خپله توره راوخیسته او ټولو کوچنیو کبانو ته یې وښوده. کوچنیو کبانو له ویرې د وړوکي تور کب خبره ومنله او یوه فرضي جګړه پیل شوه. تور کب ووژل شو! او نورو مارغه ته وویل:
-جنابه!... هغه بېشرمه کب ووژل شو....
مارغه وخندل او وې ویل:
-شاباسي! اوس به د دې خدمت په بدله کي ټول ژوندي تېر کړم، چي زما د خېټي خوند هم ووینئ!
د سترګو په رپ کي ټول کوچني کبان د مارغه تر ستوني تېر شول؛ خو وړوکي تور کب په یوه ګزار د مارغه کښوړه سوری کړه او د باندي یې ټوپ کړل. مارغه له ډېره درده چیغي کړې او سر یې اوبو ته ورکښته کړ؛ خو وړوکي تور کب د وخته تښتېدلی و.
وړوکی تور کب ولاړ... ولاړ ... ولاړ، تر څو چي غرمه شوه. دلته نو سیند له درې څخه راوتلی او په یوه اواره سیمه کي روان و او اوبه یې هم ډېري زیاتي شوي وې. وړوکی کب په خوښی پر مخ روان و او د اوبو تل ته یې کتل، ناڅاپه متوجه شو چي د اوبو تل نه ښکاري. ښی خوړته لاړ، کیڼي خوړته لاړ، هره خوږ اوبه وې، هومره اوبه وې چي وړوکي تور کب پکي ورك شوی و! وړوکی تور کب په ډېره خوښی هره خوږ کتل، که ګوري چي یو لوی او اوږد خوځېدونکی د ده پر لور روان دی. تور کب پوه شو چي له اره ماهی (اره لرونکي کب) سره مخامخ شوی دی. بیره یې وکړه او د اوبو له مینځ څخه د اوبو سر ته وتښتېد، څو شیبې وروسته بېرته د اوبو مینځ ته لاړ او له زرګونو زره کبانو سره مخامخ شو. له یوه څخه یې پوښتنه وکړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

-ملګريه! زه پرديس يم، له ليرې ښخه راغلی يم، دا کوم ځای دی؟
کب خپلو نورو ملګرو ته ناره کړه او وې ويل:
-دغه دی يو بل...
او وړوکی تور کب ته يې وويل:
-ملګريه سيند ته په خير راغلې!
يوه بل کب وويل:
-ټولي ويالي او خوړونه سيند ته راتوئيږي؛ خو ځيني - ځيني ولاړو خوسا اوبو ته هم ورځي.
يوه بل کب وويل:
-هر کله دې چې وغوښتل، کولای شي چې زموږ په ډله ګډ شي.
وړوکی تور کب چې ډېر خوشاله شوی و، وويل:
-اول به لړ وګرځم بيا به ستاسو په ډله درګډ شم. دا ځلې چې تاسې د کب نيوونکي سړي جال تښتوي، زه به هم درسره وم.
يوه کب وويل:
-دا کار به هرو مرو کېږي. اوس ولاړ شه او وګرځه. که د اوبو سر ته وختې پام کوه چې کب خوړونکی دې ونه خوري. په دې ورځو کې موږ هره ورځ ځلور – پنځه کبان له لاسه ورکوو.
دا وخت وړوکی تور کب د کبانو له ستړې ډلي ښخه بيل شو او د اوبو سر ته وخوت. د اوبو پر مخ د لمر تودې وړانګي خورې وې. تور کب چې د لمر له تودوخي ښخه خوند اخيست، ورو – ورو لامبو وهله او له ځانه سره يې ويل: (مرګ، همدا اوس کولای شي چې ما ته راورسيږي، خو زه بايد د ژوند تر پايه له مرګ سره وجنګيږم؛ خو که کله ناڅاپه له مرګ سره مخامخ شوم- چې هرومرو کېدونکي يم – پروا نه لري. مهمه دا ده چې زما ژوند يا مرګ به د نورو په ژوند کې څه اغيزه ولري...)
ناڅاپه کب خوړونکی راورسېد او وړوکی تور کب يې په منګولو کې پورته کړ. کب د کب خوړونکی په اوږده مښوکه کې ايسار و او ځان يې نه شوای خلاصولای. کب خوړونکی د تور کب ملا ټينګه نيولې وه، تور کب له ځانه سره فکر کاوه چې دربېغه کب خوړونکي ژوندی تير کړی وای چې د هغه د خېټي په اوبو کې لږ تر لږه د څو شيبو له پاره ژوندی پاتي شوی وای؛ نو څه يې کب خوړونکي ته وويل:
-ولې ما ژوندی نه تېروې؟ زه د کبانو له هغي ډلي ښخه يم چې غوښه يې تر مړيني وروسته په زهرو بدليږي.
کب خوړونکي وويل:
-ای چالاکه! غواړې چې ما وغولوې؟
تور کب له هوا نه هلته ښکته وچه ځمکه وليده او وبېريد. که وچي ځمکي ته ورسېدو، هرو مرو مرم؛ څه يې وويل:
-ښه، ته ما خپلو بچيانو ته وړې؛ خو که په ځنډ ورسېدو ټوله غوښه به مې زهر شي، په خپلو بچيانو دې زړه وسوزه.
کب خوړونکي وويل:
-سمه ده، تا به په خپله وخورم او د خپلو بچيانو له پاره به بل کب ونيسم... ما نه شي غولولای.
ناڅاپه وړوکی تور کب بېسده شو او سترګي يې پټي شوې. کب خوړونکي له ځانه سره فکر وکړ: لکه چې مړ شو.
اوس يې زه هم نه شم خوړلای، ځومره ښه ښکلی او نازك کب مي له لاسه ورکړ او د ځان د داډ له پاره يې وويل:
ای.. هی وړوکيه! تر اوسه لا يو څه ژوندی يې، زه دې خورم...!
د کب خوړونکی خبرې لا پای ته نه وه رسيدلي چې وړوکي تور کب د ده له مښوکي ښخه ټوپ کړل. تور کب د بربېښنا په شان کښته روان و، کب خوړونکی چې ښه پوره غولېدلی و، هم ورپسي و. وړوکی تور کب اوبو ته ورنژدې شوی و چې بيا د کب خوړونکي په منګولو کې ايسار شو او سمدلاسه د هغه خېټي ته لاړ. د کب خوړونکي په تيه تياره خېټه کې تور کب د ژړا غږ واورېد، هلته يو کوچنی کب و چې ژړل يې او ادې – ادې ناری يې وهلې. تور کب ورته وويل:
-کوچينه! مه ژاړه او چاره وکړه.
کوچني کب وويل:
-ته ... هـ .. څوك يې؟.. زه.. زه دلته... ايسار .... يم او ... لږ ځنډ ... وروسته .. هـ... هــ... وروسته مرم... ادې .. هـ... ادې.. او هو .. هـ...!
وړوکی تور کب وويل:
-بس کړه بابا، ټول کبان دې وشرمول! زه غواړم چې کب خوړونکي ووژنم او کبان د ده له شر ښخه خلاص کړم؛ خو اول بايد تا خلاص کړم چې رسوايي به جوړه کړې.
کوچني کب وويل:
-ته په خپله همدا اوس مرې، ته څنګه کب خوړونکی وژلای شې؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

وړوکي تور کب خپله توره وربنکاره کړ او وې ویل:
-اوس به یې خېټه وڅیرم. غوږ ونیسه. زه به د کب خوړونکي په خېټه کې منډې وکړم چې دی وتخنېږي، هرکله یې چې له خندا نه خوله خلاصه شوه ته په بېړه تري توپ کړه.
کوچني کب وویل:
-نو ته به بیا څه کوې؟
وړوکي تور کب وویل:
-زما غم مه خوره. زه تر څو چې دغه بدجنسه ونه وژنم آرام نه کېنم.
دا وخت وړوکی تور کب د کب خوړونکی په خېټه کې منډې پیل کړې او هغه یې وخنداوه. کوچني کب چې ځان ځغستلو ته برابر کړی و، په بیره د کب خوړونکی له خېټي څخه خولي او له هغه ځای څخه بهر ته توپ کړ. څو شیبې وروسته د کب خوړونکي سر ګنکس شو او ناري یې پیل کړې. وزرونه یې له الوتلو څخه پاته شول، مخ په اوبو راځوړند شو او شړپ په اوبو کې ولوېد؛ خو وړوکی تور کب معلوم نه شو او تر نن پورې ورك شو.(...
دا وخت زاړه کب خپله کېسه خلاصه کړه او خپلو دوولس زره بچیانو او لمسیانو ته یې وویل:
-د خوب وخت دی، ځئ بچیانو ویده شئ.
یوه لمسي وویل:
-بابا! هغه کوچنی کب څنګه شو؟
زاړه کب وویل:
-دا کیسه دې وې سبا ته. اوس د خوب وخت دی، شپه په خیر!
د زاړه کب یوولس زره نه سوه نه نوي بچیان او لمسیان ولاړل او ویده شول. زوړ کب هم ویده شو؛ خو یو کوچنی سور کب تر سهاره پورې وېښ پاتې شو؛ ځکه چې د سیند په فکر کې ډوب شوی و...

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ